# د بشري حقوقو څخه د سرغړونکو په واکمنۍ کې د عدالت پلي کیدل خوب او خیال دي!

**«دنیاو غوښتونکو ټولنیز انجمن»** د بشري حقوقو نړیواله ورځ د دسمبر لسمې په مناسبت خپل لاریون پداسې حال کې پرلار اچوي چې خلقي او پرچمي انسانوژونکو په لاس د وژل شویو ۵۰۰۰ بې ګناه هیوادوالو د لیست خپریدو یو ځل بیا زموږ خلک په ویر کې کینول او د روسي چوپړانو ډار او ویره یې راژوندۍ کړه. که څه هم روسي لاسپوڅو د دې خاورې ۱۲۰۰۰ وژل شویو بچیانو د لیست په راسپړلو سره په خپلو جنایتونو اعتراف کړی و، لیکن دا ځل پدې دوهم لیست کې د ورک شویو خپلوانو د نومونو په لیدلو سره یې زموږ د دردیدلي هیوادوالو ټپونه یو وار بیا تازه کړل، کوم چې پر ټپونو باندې د مالګې دوړولو معنی ورکوي. د نن ورځې په دولتي او غیردولتي کړیو کې د پورتنیو ستونزو د لاملینو پریمانه شتون د ډار او ګډوډۍ لامل ګرځیدلی او په بشپړ مصونیت سره زموږ د خلکو او هیوادوالو پروړاندې په خیانتونو بوخت دي.

د تیرو ۱۲ کلونو په لړ کې چې امریکا او ناټو د دوکې ورکوونکو شعارونو «بشري حقوق» او «دموکراسي» تر نوم لاندې زموږ پرخاورې یې یرغل وکړ، د خلقي – پرچمي، تنظیمي او طالبي ځناورو او بربریت دورانونو په څیر یو ځل بیا بشري حقوق د پښو لاندې شول. امریکایي او ناټو ځواکونو زموږ په خلکو باندې له هیڅ ظلم، وژنې او سپکاوي څخه لاس وانخیست. پداسې حال کې چې ډاراچونکي ورځ تربلې قوي شول او د بهرنیو ځواکونو ړندو بمباریو زموږ لسګونه زره بې ګناه ماشومان او ښځې ووژلې او دغه لړۍ لا ادامه لري. له بل اړخه زموږ د هیوادوالو وژلو او دمنځه وړلو لپاره طالبانو خپل ډار او ظلم ته ادامه ورکړه او امریکا او د کرزي دولت د ټوپکسالارانو څرګنده او چټلې څیرې او یو شمیر روسي کاسه پاک یې ځواکمن کړل او پر ځواک یې کینول او دوی د سیمه ییزو حکومتونو «اربکیانو» دلارې تاوتریخوالي، لوټمارۍ او ظلم ته په نویو طریقو ادامه ورکوي. د کرزي دولت د خپلو لوړو غوښتنو ترځنګ افغانستان یې د مخدره توکو په بې ساري تولید سره مافیایي کړ او لړ ترلږه زموږ دوه میلیونه وګړي یې روږدي او په بې روحه اسکلیټونو یې تبدیل کړل؛ فساد او لوټ دومره پراخ شو چې زموږ تاریخ یې ساری نه لري؛ د لومړۍ درجې انسانوژونکو لپاره په بشپړ ډول عامه بخښنه اعلان شوه او په دغه وخت کې یو جنایتکار هم محاکمه نشو. ښځې د دغې دورې لومړۍ قربانیانې وې، د تاوتریخوالي مختلف ډولونه یې ازمیښت کړل او له دردونو او ستونزو څخه یې په بې سترګې توب ناوړه ګټه پورته شوه. لنډه دا چې تیره یوه لسیزه د عدالت او بشري حقوقو قرباني کولو او ناوړو معاملو لیسزه وه، لیکن دغه ټولې معاملې د «دموکراسي» او «بشري حقوقو» د ښکلي نوم ترلاندې ترسره کیږي.

موږ په دې باور یو چې په افغانستان کې د امریکا نهو نظامي هډو شتون او دغو قاتلانو ته قضایي مصونیت ورکولو سره زموږ هیواد به د جګړو او ویجاړتوب پر لور ولاړ شي. امریکا په نړۍ کې له بشري حقوقو څخه لوی سرغړونکی دی او زیات شمیر ملتونه یې پر جګړې او وینې تویونې اخته کړي دي. له دې ډول دولت څخه «بشري حقوق»، «دموکراسي» او «امنیت» غوښتل یا ترلاسه کول

ځان ته له دوکې ورکولو او خیال څخه پرته نور څه نه دي. که چیرې د پردې ترشا د امریکا پلوي نه اوسي، د ایران او پاکستان د دولتونو مزدوره ملي ضد او تروریستي ډلو نه شو کولای په داسې آسانۍ سره زموږ هیواد ویجاړ او په وینو کې یې ډوب کړي.

موږ د زیانمنو کورنیو یوه ډله چې خپلوان مو د لاسه ورکړي د عدالت غوښتنې لپاره د ژوند تر وروستۍ شیبې مبارزه کوو او پدې اند یو چې په خپل ځپل شوي هیواد کې د یووالي او خپلو هڅو پرته له هیڅ بهرني هیواد او بنسټ څخه د امنیت، سولې، عدالت او بشري حقوقو تمه نه لرو. د دې پربنسټ له ټولو آزادي او عدالت غوښتونکو خلکو، شخصیتونو او ډلو څخه غواړو چې زموږ ترڅنګ په دریدو سره دغه غږ اوچت کړي او پرینږدي چې د پردیو نوکران او جنایتکاران زموږ په برخلیک او د شهیدانو په وینو نورې لوبې ترسره کړي.

«**دنیاو غوښتونکو ټولنیز انجمن**» یو ځل بیا خپلې غوښتنې په لاندې ډول څرګندوي:

۱- مونږ دولتی دندو څخه دخلق او پرچم هیواد پلورو د دوران، د تنظیمونو د خونړی واکمنی، دطالبانو دمنځنی پیری ایز وحشت د دوران او تر هغه و روسته بیا تر نن پوری د ټولو جنایتکارانودفوری لري کبدلو غوښتونکی یو.

۲-مونږ په یوي صلاحیت لرونکي او بی لوري ملی او نریوالی محکمي کي ددریو وروستیو لسسیزو د تولو په خیانت او جنایت تورنو کسانو دمحاکمي غوښتونکي یو.

۳- مونږ د امریکایی او ناتوځواکونو له خوا دغیر نظامی خلکو وژنې د فوری دریدلو غوښتونکي یو او باید د دغو ځواکونو جګره ایز جنایتونه نریوالو محکمو ته را کاړل شی.

۴- مونږ د جنایت په هري دوري پوري اروندو ډله ایزو قبرونو د کشفولو غوښتونکی یو.

۵- مونږ د جنایتکارانو په نوم دځایونو او واټونو نومول په کلکه غندو او هغه د خپلو بې ګناه شهیدانو د وینو سپکاوی او بي احترامی بولو.

۶- مونږ غږبښتنه کوؤ چی د بي نومه تری تم شوؤ په نوم دیادګار ځلي جور شی او د شهیدانو مزار په نوم سیمه ځانګري شی ترڅو دډله ایزو قبرونو جسدونه په عزت او درناوی هلته خاورو ته وسپارل شی.

۷- مونږ ټول افغانستان کی دخپلو هغو هیواد والو څخه چي وروټه او خویندي، خپلوان او عزیزان او دځګرتوټي یي وروستیو دیرشو کالو کي د لاسه ورکری هیله کوؤ چی مونږ سره اریکه ونیسی او د هغوی شهادت او لاپتي کیدلو څرنګوالی راسره شریک کری او د دریو وروستیو لسیرو دناورینو نو د عاملان محاکمه کولو په هڅو کي ونډه واخلی.

۸- **یو موټی شو تر څو غږ مو لالور او اغیزمن شی!**

## دنیاو غوښتونکو ټولنیز انجمن

د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ ۱۹مه (د ۲۰۱۳ کال د دسمبر ۱۰مه)


موبایل: ۰۷۰۷۸۰۳۵۶۰
ایمیل: victims.families@gmail.com
ویب سایت: www.saajs.com
پستي پته: د پست بکس شمیره ۹۸۰، کابل، افغانستان